ډاکټر احسان الله اذري ستانيزی ۲۰۱۱/۱۰/۲۳

# روس او امريکا- منزل يو خو سفر جدا جدا!

*Saturday, 10.08.2011, 08:13am (GMT)*

[د افغانستان د جنګ لامل په بهر کې دی]

هر کله چې بهرني ځواکونه له افغانستانه پر شا کېږي، زموږ په هېواد کې د جنګ د تياتر لوبغاړي بدلېږي. د امريکايي پوځونو د وتلو پيل ښايي د دې تاريخي دود وروستی مثال وي. د امريکا د ځواك لېږد او کابل ته د امنيتي چارو د سپارلو پاليسي له ناکامی سره مخ ده. د کابل اداره پاڼ ته د لوېدو او په ټول هېواد کې خطرناك سياسي او نظامي وضع د کنټرول څخه د وتو په حال کې ده. تر ټولو نوې او غټه خبره دا ده چې د افغانستان د لس کلني جګړې د سيورې تر شا د امريکايانو اصلي لنډمهال او اوږد مهال سوق الجيشي اهداف را څرګند شوي دي، دا اهداف ټول په پاکستان کې دي.

د امريکايي ځواکونو وتل له پخوا خپلې اغېزې پيل کړې دي، په هېواد کې د نظامي اشغال دوام، بشپړې بې امنيتی، ناڅرګنده راتلونکې او په کابل کې د پرديو تپل شوی حکومت، د ټول ولس بېساري کرکه را پارولې ده. د وسلوالو مخالفينو پرله پسې بريالي عمليات دا ثابتوي چې د بهرنيو ځواکونو د مستقيمې مرستې پرته، د کابل حکومت پايښت ته هيڅ ډول هيله نه ده پاتې شوې.

جنرال پتريوس د امريکا او ناټو ځواکونو قوماندان وروسته له کابو دوه کلونو څخه د خپلو اسلافو په شان له صحنې ناکام و ووت. د ده ټولو نظامي، سياسي او تبليغاتي هلو ځلو هيڅ ډول مثبت بدلون رامنځته نه کړ. پتريويس او د ده ۳۷ زره نويو امريکايي پوځيانو د جګړې ناورين نور هم پراخ او ژور کړ.

هغه څه چې اوس د افغانستان د ((ملي اردو)) او پوليس په نامه يادېږي، په واقعيت کې د شمال د ايتلاف دوې څانګې دي، که څه هم چې اوس نورې ډلې او ټپلې هم د شمال د ايتلاف په شاوخوا را ټول شوي دي، خو مرکزي کمېټه يې هماغه پخوانۍ ده.

د امريکا د مطبوعاتو پر اساس اوس د کابل اداره (۱۷۰) زره ((سرتېري)) او (۱۳۰) زره پوليس لري. د خپلواکو شنونکو او افغان پېژندونکو ډېره باور لري چې د بهرنيو پوځونو د وتلو په صورت کې به دا اردو او پوليس د ريګ او شګو د ماڼو په شان و نړېږي. د کابل پوځونه هيڅ ډول جنګي مورال نه لري او د لندن د ټيليګراف د ورځپاڼې په قول يواځې د پيسو د بنډلونو لپاره جنګېږي او د تېښتې کچه يې په ليکو کې هره ورځ پورته کېږي.

په هېواد کې روان سياسي جوړښت د ۱۹۸۰ لسيزې وروستيو کلونو ته ورته ده. د خپلو ځواکونو د ايستلو وروسته روس د نجيب په مشرۍ په کابل کې يو حکومت په ميراث پرېښود. د دې سره- سره چې نجيب ستر جنايتونه کړي وو او د اوږدې مودې لپاره يې د خپلو خلکو پر ضد د روس (ك، جي، ب) ته جاسوسي کړې وه، د خپلې واکمنۍ په کلونو کې يې له ځانه د پام وړ سياسي استعداد او هوښياري ښکاره کړه. دی و توانېد چې د روس د نظامي حضور څخه پرته، خپل رژيم د څو کلونو لپاره خوندي و ساتي. د نجيب رژيم پخپله د ده د مرکزي کړۍ د دسيسو له کبله ونړېد.

اوس امريکايان نه نجيب لري او نه کمونيستي ګوند، د کابل د ادارې مشر نه د نجيب استعداد لري او نه د هغه سياسي پوهه. دی او د ده ډله خپلو ته پردي او پردو ته خپل دي.

د دې ټولو حقايقو په منځ کې په زړه پورې ټکی دا دی چې د افغانستان د جنګ د بهانې تر شا د امريکا ستراتيژي څرګنده شوې ده. د افغانستان جنګ د پاکستان لپاره مخ په وړاندې بېول کېږي. امريکايي شنونکي او چارواکي اوس دا مسئله نه پټوي چې د افغانستان جنګ د امريکا يوه فرعي تماشا ده. اصلي لوبه ځېرمه په پاکستان کې ده.

په تېرو لسو کلونو کې امريکايانو هڅې وکړې څو د افغانستان د جنګ او د افغانانو د وينو په بيه پاکستان خوندي وساتي، د پښتنو بالقوه فزيکي ځواك مات او په راولپينډۍ کې پنجابي جنرالان د پښتونستان په ګوټ ګوټ کې حاکمان کړي. د روان کال د اګست په لسمه د امريکا کرسچن ساينس مانيتور ورځپاڼې وليکل: "د پاکستان کورنی امنيتي ثبات د امريکا د



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ

ملي امنيتي ګټو يوه مهمه برخه ده. له دې کبله دا غوره کار نه دی چي د پاکستان د پوځ پر ضد اقدام وشي". دغه ډول څرګندوني نورو امريکايي خپرونو هم څرګندې کړي دي.

د امريکا او پاکستان اړيکي ډېرې ژورې، خو داسي پټې دي چي هيڅوك به پرې پوه نه شي. يوه امريکايي ليکوال څه موده دمخه ليکلي وو: "کاشکي زه يو مچ وای خو د هغې خوني پر دېوال ناست وای چي په هغه کي اوباما، زرداري او د سي آی اې او آی اس آی رئيسان جرګه شوي ول، زه به مچ وای خو د امريکا او پاکستان په راز خو به خبر وم".

دا واقعيت د لمر په شان روښانه دی چي پاکستان د امريکا او انګرېز اسراييل دی، همدوی جوړ کړی او همدوی پخپلو وسلو او پيسو تر دې دمه ساتلی دی. همدا اوس چي دا مقاله ليکم د امريکا لاس انجليس ټايمز ورځپاڼي (د روان کال د سپتمبر ۲۰) د يوې مقالي په ترڅ کي کاږي: "امريکايانو تر اوسه پورې پاکستان يواځي په شاوخوا هېوادونو کي د جګړې او جاسوسۍ د يوې وسيلي په توګه کارولی دی".

امريکا ته د پنجابي جنرالانو خدمت د لرغوني چين جنرالان را يادوي. د لرغوني چين جنرالانو به چي بهرني ملکونه لاندې کول بيا به يې د وژل شويو خلکو سرونه په جوالونو کي چين ته راوړل او له امپراتور څخه به يې خپل معاش تر لاسه کاوه. د هر جنرال به چي جوالونه زيات ول زياتي پيسي به د هغه وې. د راولپينډۍ جنرالانو هم همدغه شان د انسانانو د سرونو په شمار له امريکايانو ډالر ته لاسه کړي دي او د دوی د قربانيانو قاطع اکثريت پښتانه ول او دي.

تېر کال د امريکا د (Harry walker Agency) موسسي د پاکستان پخوانی ديکتاتور جنرال مشرف راوباله څو د امريکا په ۱۷ ايالتونو کي ۱۷ يو ساعته ويناوې وکړي. ده ته د هر ساعت لکچر په بدل کي درې لکه ډالره حق الزحمه ورکړل شوه. دا ډول حق الزحمه به که فرعون هم ژوندی وای تر لاسه کړې نه وه. د دې نجس جنرال کوم کمال وو چي دومره پيسي يې تر لاسه کړې؟ دا پيسي د لکچرونو نه بلکي د پښتنو د سر جوالونو ته ورکړل شوي دي.

آيا هغه زرګری جنګ او لفظي بد او رد چي امريکايان کله نا کله پاکستان ته وايي ريښتيا ده او يا دروغ؟ زما په اند ښايي دا هم ريښتيا وي او هم دروغ، په سياست کي عشق او نفرت، د ضدينو اتحاد نوې خبره نه ده. امريکايان هره اوونۍ د پاکستان څخه دا غوښتنه بيا- بيا تازه کوي چي د حقاني په مورچلو دي يرغل وکړي. پاکستان په ظاهره وايي چي دوی بېوسه دي ځکه د دوی پوځونه په نورو جبهو کي بوخت دي، خو د پردې تر شا امريکايانو ته وايي چي دا پښتانه زموږ او ستاسو ګډ دوښمنان دي، يو به هم ژوندی پرېنږدو، خو په نوبت به يې وژنو. راځئ چي لومړی دا تحريك طالبان پاکستان ختم کړو بيا به يو- يو نيسو او د قصابۍ غولي ته به يې را کشوو.

همدا اوس اوس پاکستان او امريکا په ګډه د ډېرو پرمختللو بې پيلوټه الوتکو او د لرې واټن ويشتونکيو توغنديو په واسطه په قبايلي سيمو کي ژوندی دوزخ جوړ کړی ی، ځيني څېړونکي دې ته پټ قتل عام وايي. د دې سيمو حال هيچاته څرګند نه دی، ځکه هيڅوك په دې باب خپل ليدلی حال بيانولای نه شي.

دا ډول پټ وژل او انساني ضد چلند د انګرېز د نولسمي پېړۍ پاليسي ده. انګرېزانو به ويل چي لومړی بايد پښتانه متفرق شي، په بېلو- بېلو ډلو و وېشل شي او بيا يو- يو په نوبت سره ختم شي. "يو ځل، يوه قبيله" د انګرېزانو مشهور شعار وو. اوس پښتانه په نشنلسټانو، قبايلي ملېشو، تحريك طالبان پاکستان، د حقاني ډله او د کوټې په شورا وېشل شوي دي. نشنلسټان او قبايلي ملېشي د پنجابي منصبونو په هوس کي دي، لکه چي يو وخت خوشحال بابا ورته افرادو ته ويلي وو "اوس ترلي د مغل د آش په خوند دي".

له بده مرغه امريکايان پښتانه د ځان او پاکستان ګډ دوښمنان بولي. يوې مشهورې امريکايي مجلې (Foreign Affairs) څه موده پخوا ليکلي وو چي امريکا بايد پرېنږدي چي د افغانستان واك بيا د پښتنو يوې نخبه ډلي لاس ته ورشي. همدا ډول د اګست په لسمه نېټه د امريکا د بوسټون ګلوب ورځپاڼي وليکل: "زموږ پښتانه دوښمنان غواړي چي د کابل د حکومت مورال کمزوری کړي...پښتانه هغه قومي ګروپ دی چي موږ ورسره اوس په جګړه بوخت يو".

امريکايان د پاکستان د راتلونکي په باب زيات انديښمن دي. دا انديښنه دوه لاملونه لري:

۱- امريکايي پاليسي جوړوونکي ويره لري چي پاکستان به د خپلو کورنيو تناقضاتو په پايله کي ونړېږي. د سړې جګړې نه وروسته پاکستان خپل ستراتيژيك او ايډيالوژيکي اهميت له لاسه ورکړی. اوس بلوچان هوډمن دي چي بلوچستان د راولپينډۍ د پنجابي جنرالانو څخه خپلواك کړي، سينديان سيندو دېش غواړي او يواځي پښتانه لا تر اوسه د يوۀ طلسم په واسطه هم له خپل ځان او هم له يو بل نه بېګانه شوي دي. دوی د دې پر ځای چي خپل ځان د پنجابي تورتم نه و ژغوري، په ټوله نړۍ کي خلافت جوړوي، دوی وايي چي صليبيان راغلي دي او د اسلام دين له منځه وړي.

---



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ښايي د افغانستان په اشغال کې د امریکایانو اعمال صلیبیانو ته ورته وي، خو دا جنګ صلیبي نه شو ګڼلای. لومړی پخپله امریکا او متحدین يې نه په صلیب باور لري او نه په صلیبي او هم که دا جنګ صلیبي وي بیا نو اسلامي هېوادونه لکه پاکستان، سعودي عربستان، اردن، ترکیه، متحده عربي امارات، مالیزیا، اوزبکستان، ترکمنستان او تاجکستان باید ټول صلیبیان وګڼو. د اردن، عربي متحده ایالات، مالیزیا او ترکي پوځونه خو همدا اوس- اوس له امریکایانو سره اوږه په اوږه په افغانستان کې عملیات تر سره کوي.

روڼ حقیقت دا دی چې په شلمه او یوویشتمه پېړیو کې د ابر ځواکونو ټولې جګړې د اقتصادي او سوق الجیشي موخو لپاره سر ته رسېږي. د عراق او لیبیا جنګ د تېلو جنګ او د افغانستان جنګ په سیمه کې د امریکا د ستراتیژیکو موخو جنګ دی.

۲- دا ټولو ته جوته شوې ده چې د امریکا په امپراتورۍ کې درز را منځ ته شوی او د نړۍ په سیاسي چارو کې امریکا هغه فعال مایشانه ده چې لس کاله دمخه وه. امریکایان ویره لري چې پاکستان چې د سلو اټومي بمونو درلودونکی هېواد دی، د دوی د مدار څخه خلاس نه شي. چین د ابرځواکی په لور چټك ګامونه پورته کوي خو پیاوړی اقتصاد يې تر اوسه د امریکا تر ولکې لاندې دی. که امریکا نن له چین سره سوداګریزې اړیکې وشلوي، د چین اقتصاد ځمکې ته را کوزېږي، چین اوس دومره وړیا پیسې پاکستان ته نه شي ورکولای چې د امریکا څخه يې تر لاسه کوي، خو دا اټکل سم دی که چېرې پاکستان په همدې حال پاتې شي ښايي د چین په نظامي او جاسوسي ټاټي بدل شي. د چین لوړپوړي چارواکي او مطبوعات اوس پاکستان ته په ډاګه "د چین اسرائیل" وایي.

د دې دوو عواملو له کبله سام کاکا (سام کاکا په طنز د امریکا دولت ته ویل کېږي. ایرانیانو عموسام ژباړلی ده) اټکل کړی چې باید په سیمه کې په یو ډول یا بل ډول پاتې شي څو د پاکستان برخلیك و ټاکل شي. امریکا په سیمه کې چې روس، هند، چین او ایران يې ټاکونکي لوبغاړي دي خپل نظامي حضور د خپل امنیت یوه برخه ګڼي، او افغانستان او افغانان يې یرغمل نیولي دي. ګناه د نورو ده خو کفاره يې افغانان او خوار پښتانه ورکوي.

په دې ډول په افغانستان کې د شپې عمر اوږدېږي او په سیمه کې چاودېدونکي سیاسي او نظامي وضع د نویو وحشتونو او حیرانوونکیو پېښو د راتلو خبر ورکوي. اصلي پوښتنه دا ده چې له دې حال نه به زموږ هېواد بریالی راوځي او که نه؟ زموږ د نسل ژوندۍ تجربې د هیلې پر ځای د ناهیلیو زېری ورکوي. زموږ د هېواد دوښمنان ټول باور لري چې افغانستان او په تېره بیا پښتانه به د خیر ورځ ونه ویني، ځکه دوی ملي زعامت نه لري. د پراخ ملي زعامت نشتوالی تل زموږ ولس د خپلو بچیانو په وینو لمبولی او په نړۍ کې يې د یوه ناکام ولس په توګه شرمولی ده. په افغانستان کې د پښتنو په برخه یواځې ګور او کفن رسېږي، په زرګونو يې ګور هم ونه لید. دوی د ژوند خوند نه دی لیدلی. داسې ولس په ټوله نړۍ کې نشته چې له دوه میلیونه اوسېدونکي يې و وژل شي او بیا يې مشري د یوهٔ غیرمشروع دولت په لاس کې پرېوځي. د افغانستان اوس هماغه حال دی چې د خوشحال بابا په وخت د مغلو د لاس یوه آله وه او خوشحال بابا د پښتنو برخلیك په یوه بیت کې لنډ کړی وو:

پلار نیکه مي شهیدان وګور ته تللي          پښتـاپشت مي هنــر دا دی آل پــه آل

زما او زما په شان خلکو څخه هیڅ شی نه جوړېږي، موږ په تبعید کې شپې او ورځې تېروو، خو د هغو افغانانو چې د خپل هېواد په جنتي ټاټوبي کې ژوند کوي مسئولیت ورځ په ورځ زیاتېږي، د تاریخي کندې نه د افغانستان خلاصون زموږ یواځینی دیني او وجداني دنده ده. د خلاصون لاره شته خو که لږ موږ هوښیار شو. شل کاله دمخه اروابناد استاد عبدالرحمن پژواك په پېښور کې ماته ویلي وو چې د افغانستان د موجودیت دلیل درې اصله لري. که چېرې دا درې اصول زموږ د لارې څراغ وي افغانستان ته به هیڅوك په کږو سترګو ونه ګوري. هغه اصول دا دي: اسلام، افغانیت او پښتونولي.

زموږ د ټول ولس او تاریخ غوښتنه زموږ د خپلواکو مشرانو- نه د ګوډاګیانو څخه دا ده چې دا اصول د خپلې لارې څراغ کړي. په یاد ولرو چې تاریخ انتظار نه کوي. دا څراغ د ملا مشك عالم لاره روښانه کړې وي او خدای دې زموږ د ټولو ملایانو په برخه کړي.
دا مقاله زما د یوې خپرې شوې انګلیسي مقالې ژباړه ده.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ